# د سهېلي پښتونخوا د پښتو ادب ښځينه ليکوالو د تحقيق جائزه

**A Study of the Pashto Research of Women in Southern Pashtoon Khwa**

ياسمين ګل*

**Abstract:**

Womens writters played a vital role in Pashto literature in Southern Pashtoonkhwa.It is a praise-worthly element that women's writers of Southern Pashtoonkhwa are doing commendable research in Pashto literature. Although women literary role e.g historical,social and cultural aspects has been brought to light only by the dint of women writers.In the beginning, research was considerd a hardnut to crake but with the passage of time there was decrease in hardship and suffering that very cardinal time that women showed their identity and introduced themselves in literature.They started working in different aspects of research the credit goes to the women writers.who on the basis of research brought versatility in Pashto literature.

**Keywords:** Pashto literature, Southern Pashtoonkhwa, women literary role, Pashtun women writers.

د سهېلي پښتونخوا (جنوبي پښتونخوا) مځکه په ادبي لحاظ په ټوله پښتني سيمو کښې خپل ارزښت لري. ولې چې د پښتو ادب پېل له دغه ځای څخه شوی دی. که و يوې خوا ته په دغه مځکه ادب په زرغونو کلونو مخ کښې راغلی دی ورسره په دې مځکه د پښتو ژبې نامتو شاعران او اديبان زېږېدلي دي نو و بلې خوا ته د دغه مځکي ښځينه ادبي ونډه په خپل ځای د صفت وړ ده چې په پښتو ادب کښې د بې شمېرو ستونزو څخه مخامخ کېدو وروسته هم خپله ونډه په کښې اچوي. که څه ه دا ونډه لږ ده خو بيا هم تاريخي آثار، کلتور، دودونه، رواجونه ټوله د اولسي ادب په وسيله پخته راغله او داسي د پښتو ادب ښځينه ليکوالو تحقيق هم د پښتو ادب پټ کلتوري برخي، نومورې شخصيات او دتاريخ پاڼي پر مخ راوستلې.

په تحقيق مطلب پلټنه يا د پلټنې د لاري حقائق ښکاره کول. په دا په ادب کښې يوه داسي موضوع هم نشته چي د تحقيق يا پلټنه څخه نۀ شي معلوم. او په اوسني وختونو کښې د زوړ يا پخواني ادب سره سره د ادب نوي پاڼي پاڼي هم په دغه تحقيق کښې را نغښتل شوي دي. په تحقيقي ډول په ادب کښې د ښځينه ليکوالو برخه ډېره لږ ده. د ادب په لومړني وختونو کښې کله چې زرغونه انا، نازو انا شاعري کوله نو تحقيق يوازي ګران کار نۀ ؤ بلکې نا ممکن کار ګڼل کېدی. داسي د سهېلي پښتونخوا ادبي مځکه د ادب په لومړني، دويم او درېيم وخت کښې ناپيده ښکاري خو په

---

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan

نوي او اوسني وختونو کښې د نړۍ د ودي او پر مختګ په دوران کښې ثقافتي او تعليمي ستونزي هم پر کمبوت شوي او ښځه د خپل حقوق په پوه کېدو وروسته د تحقيق په ميدان کښې ئې خپل نوم اوچت کړی. او په دا وختونو کښې د ادب په بېلا بېلو موضوعاتو باندشي پلټنه يا تحقيق وکړی او د خپل لاس ته راوړنو سره ئې د ادب لمن پراخه کړه. دغه موضوعاتو لکه ادبي شخصيات، خپل فولکلور يا ثقافت او ادبي تاريخي کارنامې غوندي موضوعات د تحقيق په رڼا کښې مخته راغلل. خو په دغه تحقيق کښې ادبي معيار که څه هم پوره وي خو بيا هم څه نيمګړتياوي په کښې ښکاري. د تحقيق د پر مختګ د پاره د ژوري مطالعې او د هغه موضوعاتو را پر مخ کېدلو ارزښت شته کوم چي پښتو ادب ته وده ورکولی شي.

پښتو ادب کښې ښځينه ليکوالو په تحقيق کښې که څه هم ګڼ موضوعات شامل دي خو اولسي رنګ زيات په کښې ښکاري. لکه انګۍ، غاړي او داسي نور. کله چي موږ د پښتو ښځينه ليکوالو په خوا مخه کړه نو هلته په سهېلي پښتونخوا کښې د ډېرو ښځمنو ليکوالو نومان په مخه راغله لکه، فهميده شاهين، آرزو زيارتواله، صفيه پانيزی، شفا کاړه، رحمت بي بي اڅکزی، شاکره خان، زبېده مندوخېله، فرزانه خدرزی، عاليه کاکړه، ښائسته پانيزی، حاجره مندوخېله، بلقيس شېرانۍ، ناهيده پانيزی، زارا شاهد، سارا کاکړ، ثمينه ترين او داسي نور ډېر نومان د يادولو وړ دي. دلته به د دوی يوه مختصره غوندي جائزه واخلو چي په دا ډول ده.

**رحمت بي بي اڅکزۍ:** رحمت بي بي اڅکزۍ د سهېلي پښتونخوا په ښځينه ليکوالو کښې يوه تعليم يافته ليکواله ده چي د ادبي ليک سره سره ئې په پښتو ادب کښې تحقيق د سهېلي پښتونخوا په هغه موضوع کړی دی چي د ستائيني او ارزښت وړ دی. رحمت بي بي اڅکزۍ خپله تحقيقي مقاله "د سهېلي پښتونخوا د پښتو خطي نسخو څېړنه جاج " عنوان لاندي تر سره کړه. دغه موضوع په ادبي لحاظ يوه داسي موضوع ده چي د پښتو خطي نسخو څېړنه کول د وخت ضرورت دی. په دغه موضوع کار کول او ګڼې خطي نسخې راغونډول د پښتو ادب په ډګر کښې يو داسي ګام دی چي د ستائيني وړ دی.

> "د جنوبي پښتونخوا د خورې ورې پراخي سيمي د پښتو نسخو په باب څېړنه کول د وخت ضرورت دی، لکه د پښتونخوا د نورو فرهنګي حوزو لکه پېښور، کندهار او کابل او حتیٰ په هند کښې هم لا د پښتو پر خطي نسخو څېړني شوي دي.نو ځکه موږ وئيلای شو چي په سهېلي پښتونخوا کښې پر پښتو خطي نسخو کار عين د وخت او پښتو ژبي ضرورت دی چي تشه ئې له ډېرو وختونو احساسېده. هغه ځکه چي تر اوسه پوري ببرته له بېخي لږو حوالو چي په بېلا بېلو منابعو کښې ئې ځيني يادوني راغلي

دي مربوط کار نهٔ دی شوی، ځکه موږ دا موضوع غوره کړه چي د پښتو ژبي د نور څېړنو او علمي پنګي د بډائيني سوب وګرځي."(۱)

په دا تحقيق کښي د بيټ نيکه مناجاته ئې را واخلې بيا تر دوولس سوه کلني تاريخي، علمي و ادبي برخي په کښي را نغښتل شوي دي. د سهېلي پښتونخوا مځکي ته په دې ادبي زرخېزه مځکه وئيل کېږي چي په دې مځکه کښي پټې خزانې غوندي تاريخي کتاب نسخه هم تر لاسه شوې وه. په دغه د رحمت بي بي په تحقيق کښي لومړی وار د سهېلي پښتونخوا د جغرافيائي حالات او د علمي و ادبي څانګي جائزه اخستل شوې ده. او ورسره ورسره د سهېلي پښتونخوا ديني خطي نسخې ذکر شوي دي. لکه انوار القرآني، ترجمان القرآن، تفسير القرآن. دغه نسخې په باقاعده توګه نظم ويونکو او ليکونکو په ښودنه وړاندي کړل شوي دي او وروسته په سهېلي پښتونخوا کښي ادبي خطي نسخې لکه شعري ديوانونو، بياضونو څېړني شوي دي. په دا تحقيق کښي د سهېلي پښتونخوا د پښتو طبي، تاريخي، تربيتي خطي نسخې لکه قال البقراط د طب هغه علم دی چي په دې کښي د انسان د بدن احوال، صحت ، مرض معلومېږي يا ښودنه شوې ده. تاريخي خطي نسخې لکه آئينه افغان، اکبر نامه، د آزادۍ پای، د پښتو نسب و دعائيه افغانستان، سيرت حسن و حسين د صفت وړ دي. د تربيتي نسخو د ذکر څخه الفنامه محمد سعيد، د اسمان ستوري، د قلم پر نوک، عبرت نامه، عياد الحريض د خپل ارزښت په سوب خپل خپل حای تر لاسه کړی. د دغه نسخو په دا څېړنه کښي ګڼي پښتو متفرقي خطي نسخې جنګ نامه امامان، ګلزار حيدري، ژبني آثار، بدايع منظوم، ذخيره القرا، رحمت التجو، رساله تراکيب ذکر شوي دي. د منظومو کيسو په پښتو نسخو کښي د آدم خان درخانۍ، رساله فيروزه، فراق نامه مانکي صاحب، معراج نامه، يووسف زليخا په راوړونکو نسخو کښي تر لاسه شوي دي.

لنډه دا چي د رحمت بي بي اڅکزۍ دغه تحقيق و پښتو ادب ته ګټه رسېدو سره يوه لارښونکې هم ده چي په پښتو ادب کښي ئې يو نوی فکر، سوچ او پر مختګ لاره ښکاره کړه.

**فهميده تاج اڅکزۍ:** په پښتو ادب کښي د ښځينه ليکوالو محقيقنو په نومونو کښي يو نوم د فهميده تاج اڅکزۍ دی. دې ليکوالي خپل نوم د پښتو ادبي تحقيق له لاري لوړ کړی دی. "د سهېلي پښتونخوا په پښتو ادب کښي پښتو افسانې آغاز او ارتقا" غوندي موضوع باندي کار کړی دی. دا تحقيق په کال ۲۰۰۳ ع کښي د بلوچستان پوهنتون په پښتو څانګه کښي د ايم فل د تحقيقي مقالې په صورت کښي پای ته رسولی دی.

فهميده تاج په خپل تحقيق د پښتو افسانې آغاز او ارتقائي سفر په دوران کښي ګ افسانې ګڼي برخي څېړلي دي. په دې کښي يوې خوا ته د پښتو ادب تاريخي پس منظر بيان شوی دی او بلي خوا ته په پښتو ادب کښي د لنډې کيسې، د ادبي منظوم او منثور داستانونه، نکلونه باندي تبصره

کولو وروسته د افسانې تاریخ د پښتو افسانې آغاز بیانولو سره ئې په نوي او جدید وختونو کښې د جدید پښتو ادب و پښتو افسانې څېړنه په ښه انداز کړې ده.

د دغه تحقیق په رڼا کښې د بلوچستان په پښتو ادب کښې پښتو افسانه نګاري له ۱۹۸۰ع څخه تر ۱۹۹۰ع پورې شائع شوې افسانې او افسانه نګاران را مخته کړي. دغه رنګه په پښتو افسانو کښې د پښتو افسانو روایت، جدیدیت، کردار نګاري، معاشرتي، تهذیبي، سماجي او تمدني برخې ئې و پښتو ادب ته راوړې دي. د دې سره سره ئې د پښتو افسانو تعمیري او تنقیدي اړخ، د پښتو افسانو پر نورو ژبو اثرات، پښتو افسانو ته په راتلونکي وختونو کښې د وخت په مناسبت سره کومې غوښتنې دي هغه ټول ئې په ښائسته انداز، روان او اسانه فقرو کښې وړاندې کړې دي.

د فهمیده تاج دغه تحقیق د ستائینې وړ دی. ولې چې دغه تحقیق په پښتو ادب کښې یوه ادبي خلا ډکه کړه. پښتو ادب ئې د نورو ژبو سره اوږه په اوږه روانولو کښې خپله ونډه شریکه کړه.

د دې تحقیق د لوستلو وروسته ډېر اړخونه ومخته راځي. که څه هم ووایو چې معیاري تحقیق دی خو دا په اردو ژبه کښې لیکل شوی دی او د پښتو هغه یوه لیکوال چې د اردو ژبې څخه نا آشنا وي ګټه نۀ شي ځني تر لاسه کولای.

*" اس تحقیقی مقالے کا اصل مقصد بلوچستان میں افسانے کا آغاز اس کے ارتقائی مراحل کا جائزہ لینا ہے۔ اس سے پہلے ان حالات کا جائزہ لینا ضروری ہے کہ ہم افسانے تک کن کن مراحل کو طے کر کے یہاں تک پہنچے ہیں اور ابتداء سے انسان کن کن حالات سے گزر کر علم و ادب کے ان مراحل تک کس طرح پہنچا اور ماہرین اس بارے میں کیا کہتے ہیں۔"(۲)*

**ژباړه**: د دې تحقیق مقالې اصل مقصد په بلوچستان کښې د افسانې د آغاز او ارتقائي مراحلو جاج اخستل دی. د دې له مخه د هغو حالاتو جاج اخستل ضروري دی چې موږ د افسانې د کومو کومو مراحلو څخه تر دې ځای را رسېدلي یو او له ابتدا څخه انسان له کومو کومو حالاتو څخه د علم و ادب پورې د کومو مراحلو څخه تر دا ځای را رسېدلی او ماهرین په دې هکله څه وائي.

افسانه چونکې د ارتقائي سفر په دوران کښې پښتو ژبې ته راغله نو په دا وخت که څه هم د ټولني غوښتنې ئې په ځای کړې دي خو بیا هم د موضوعاتو له کبله د افسانې معیار د ټولني سره د برابرۍ خبره یا تحقیق نۀ دی شوی.

*"جدید پشتو ادب سے پہلے بھی افسانے کے آغاز سے بہت پہلے پشتون معاشرے میں بعض ایسے قصے بیان ہوئے ہیں جن میں افسانے کی خصوصیت موجود تھی اگرچہ یہ پشتو ادب کے قصے کہانیوں جدید ادب کے فن و تکنیک پر پورے نہیں اترتے۔ (۳)"*

د فهمیده اڅکزۍ تحقیق د پښتو ادب په وده کښې یو ګام دی چې پښتو ادب ته ئې وده ورکړه او د پرمختګ لاره ئې جوړه کړه.

**شاکره خان:** د ښځینه پښتو ادب په تحقیق لیکوالو کښې یو نوم د شاکره خان یادېږي. دې خپل تحقیق د سهېلي پښتونخوا د ادب په یو داسې موضوع چې د تېرې وروسته په هره سیمه کښې ارزښت لري. چې د "کاکړۍ غاړو تهذیبي او کلتوري ښې مطالعه" ده. دغه تحقیق په کال ۲۰۱۴ ع څخه تر کال ۲۰۱۶ ع پوري شوی دی. دې دا تحقیق د بلوچستان پوهنتون پښتو څانګې څخه کړی دی.

دا تحقیق په خپل ځای یو معیاري تحقیق ګڼل کېږي چې په دې کښې ئې د کاکړیو غاړو هر اړخ څېړلی دی.

> "کاکړۍ غاړې د پښتو اولسي ادب یو ډېر خوندور او په زړۀ پورې صنف دی. له تېرې را مابعد بل صنف له غاړو سره نۀ شي پرتله کېدلای. کاکړۍ غاړې په خپله لنډ بحر کښې ډېر غټ مفهوم بیانوي. د پښتنې فولکور دغه صنف په خپله لمن کښې هر راز موضوعاتو ته ځای ورکړی دی. که سیاسي وي که تاریخي که غم وي که ښادي مینه وي که جبر امن وي که رزم غرض دا چې د ژوند هر اړخ ئې خوندي کړی دی "(۴)

په دغه تحقیق کښې د کاکړۍ غاړو پس منظر، د کاکړۍ غاړو د پېژندګلوي او تعریف سره سره فني جوړښت بیان شوی دی. په پښتنې ټولنې کښې بېلا بېلوځایونو کښې کاکړۍ غاړې را ټولې کړې دي. لکه وادۀ، کوزده، د انجلۍ زوکړه، د ښځمنو حقوق، د ښځو توهمات او داسې نور. په دا تحقیق کښې د پښتونخوا د ګڼو تاریخي سیمو تهذیبي آثار په کښې کتل کېږي. د پښتنې چاپېریل و تهذیبي انځورګري پس منظر ښه عکاسي په دې غاړو کښې لیدل کېږي.

**شفا کاکړه:** په پښتنې لیکوالو کښې چې کومې لیکوالي په پښتو ادب کښې خپل تحقیق ته عملي جامع ورپه غاړه کړې ده هغه شفا کاکړه ده. شفا کاکړه په پښتو ادب کښې د سهېلي پښتونخوا یوه اهمه موضوع تر خپل تحقیق "په پښتنې ټولنه کښې د کرکي او کرښې یوه تنقیدي او تحقیقي جائزه" تر نامه لاندې راوستلې ده. دا موضوع ډېره د ستائینې وړ ده ولې چې زموږ ټولنه تر اوسه پورې د بې شمېرو کرکو او کرښو هم هغسې عقیده یا باور لري کومه چې تر اسلام له مخه د جهالت په وختونو کښې خلګو درلودې.

> "زموږ پښتانه د خپلو زړو اقدارو قدرونه تر اوسه پورې دوی عقیده ورته لري. پلانی شی مو په نېکمرغۍ او په بد مرغۍ نیولی دی. کله چې د پخوا څخه زموږ نیکونو او پیرونو د هندوانو او سکهان اوسېدلي وو، ولې چې دوه نیم زره کاله د مخه په پښتونخوا شرقي او جنوبي سیمو کښې د هندومت یا بدهـ مت ثقافت څخه څه توهمات په دغه علاقو کښې پاته شول چې تر اوسه ئې زموږ په ټولنه باندې اثرات پراته دي. خو

دا خبره موږ ټولو ته معلومه ده چې توهمات په ټولنه کښې شته خو څه توپير سره لري."(۵)

په دغه تحقيق کښې ليکوالې لومړي ځل په پښتنې ټولنه کښې د ښځې مقام او کردار باندې څېړنه کولو سره د ښځو بنيادي ذمه وارياني ښودلې دي. او بيا د انجونو په زېږېدښت د پښتنې کورنيو عمومي ريوئې ښودلې دي.د انجلۍ پېغلتوب، د انجونو د تعليم اهميت، د ناريناؤ او د انجونو د تعليم توپير سره سره ئې په حقوقو باندې خبره کولو وروسته د ښځمنو حقوق او پر ګڼو نظريو باندې بحث کولو وروسته په اسلام کښې د مېرمنو پر حقوقو باندې خبره کړې ده. د دغه ټولو وروسته د خپل اصل موضوع "په پښتنې تولنه کښې توهمات" باندې ليک کړی دی. په دغه کښې په پښتنې ټولنه کښې د ښځو توهمات، توهم پرستي تعريف، په پښتنې ټولنه کښې د توهماتو اهميت باندې تحقيق کړی دی. او بيا د پښتو ادب اولسي موضوع لکه رسمونه، د رسم او رواج شرعي طريقې باندې بحث کړی دی. په دغه رسمونو کښې چې کوم توهمات، کرکې يا کړنې د پښتنو په ځينو قبيلو يا قومونو کښې کېږي هغه ذکر شوي.

دغه تحقيق په خپ ځای يو ښه تحقيق دی. د پښتنې سيمو او کورنيانو په دغه کښې ډېرې کرکې او کړنې پرتې دي چې د وخت سره به پای ته رسي. دغه تحقيق د يوه ښه موضوع نشاندهي کوي.

**صفيه رحمان پانيزۍ:** صفيه رحمان پانيزۍ د پښتو ادب يوه محققه او ليکواله ده. دې ليکوالې خپل تحقيق "د علامه عبدالعلي اخوندزاده ژوند او خدمات" تر عنوان لاندې کړی دی. په دې تحقيق کښې ليکوالې د عبدالعلي اخوندزاده د فن او شخصيت هغه اړخونه را سپړلې دي چې په ادب کښې د سترګو وړ وو.

> "علامه عبدالعلي اخوندزاده د جنوبي پښتونخوا هغه ستر علمي او ادبي شخصيت دی چې د پښتو ژبې او ادب په وده او پر مختګ کښې ئې نۀ هېرېدونکې کارنامې تر سره کړې دي. خصوصاً د پټې خزانې د قلمي نسخې د انکشاف په حواله به د هغه نوم تل ژوندی وي. له دې پرته د هغه سياسي او سماجي خدمات هم د قدر او اهميت وړ دي. او په تېره بيا د يو مصلح په حېث هغه چې د ټولنې په اصلاح کښې کوم کردار ادا کړی دی هغه هم د هيچا پټ نۀ دی. په سياسي ډګر کښې چې هغه کوم فکر درلود هغه په بلوچستان کښې ډېر کم سياسي پوهان لري." (۶)

دغه تحقيق په خپل ځای يوه تحقيقي ښه لري، ولې چې د عبدالعلي اخوندزاده فن، شخصيت، سوچ و فکر او سياسي کردار و قام ته په ښائسته او خوږو ټکو کښې وړاندې کړی دی. د عبدالعلي اخوندزاده د شاعرۍ او علم څخه پښتو ادب د يوې مودې څخه اشنا دی. او د وخت سره

سره بې شمېري مضامين په عبدالعلي اخوند زاده باندي ليکل شوي او چاپ شوي دي. او د دې تحقيق د لاري نور پټې معلومات تر لاسه شول.

**ارزو زيارتواله:** آرزو زيارتواله د سهېلي پښتونخوا د ادب يوه نوموړې شاعره، اديبه، ليکواله او محققه ده. دغې ليکوالي خپل تحقيق د بلوچستان د پښتو ادب په اولسي صنف "انگۍ" باندي کړې دی. دغه ادبي اولسي صنف د سهېلي پښتونخوا د پښتنې سيمي ږوب، لورالائي، قلعه سيف الله، مسلم باغ او د زيارت د خوا را پيل شوی دی. دغه يو ښځينه ادبي اولسي صنف دی چي په کښې يوه پښتنه د خپل وادۀ په ورځ د بغارو په صورت کښې په شاعرانه انداز خپل جذبات او احساسات وراندي کوي. او خپلي ټولي گيلې او د زړۀ ارمان پکښې بيانوي.

آرزو زيارتوالي خپل تحقيق "د بلوچستان په پښتني سيمه کښې د انگۍ تنقيدي او تحقيقي جائزه" تر عنوان لاندي کړی. دغه تحقيق هغې د خپلي مقالې په صورت کښې په کال ۲۰۱۷ع کښې تر سره کړی. په دغه تحقيق کښې محققې د گڼو سيمو د کتلو وروسته د هغو د پېغلانو او ناويانو تول جذبات د انگۍ په شکل کښې را اخستي او د هري انگۍ څخه ئې د ښځي ټول جذبات وړاندي کولو د پاره کار وکړی. او دغه انگۍ ئې و خپل قام ته د يوې آئينې غوندي ښکاره کړه. چي په دغه کښې د ښځينه جذبات، احساسات د هغو هغه دکهه او تکليف چي په عامه توگه ئې څوک نۀ اوري ټول را غونډ کړي دي. داسي ئې د پښتو ادب لمن په خپل تحقيق پراخه کړه.(۷)

**کلثوم کاکړه:** د تحقيق په اړه د سهېلي پښتونخوا په ښځينه تحقيق نگارانو کښې د کلثوم کاکړي نوم هم شته . دې ليکوالي خپل تحقيق "د ملا سلام اشېزي فن او شخصيت" تر عنوان لاندي تر سره کړی. د دې تحقيق د لاري ئې خپله د ايم فل مقاله د بلوچستان يونيورسټۍ پښتو څانگي څخه په کال ۲۰۱۶ع کښې تر سره کړه.

> " د دې کره کتني مقصد دغه دی چي دغه نظر بند شاعر لاره خلاصه شي. د دوی کلام او د دوی فکر او پېغام تر خلگو پوري ورسوي، ځکه چي د دوی په ادبي خدماتو عام لوستونکي له سره خبر نۀ دي. نو په دغه کره کتني کښې به د دوی خدمات په نوي تحقيقي انداز کښې وړاندي کېږي."(۸)

**عاليه کاکړه:** عاليه کاکړه د سهېلي پښتونخوا په ښځينه تحقيق نگارانو کښې يو نوم دی چي هغې خپل تحقيق په بلوچستان کښې د اردو ژبي خاکه نگاري کښې تر سره کړی دی.

عاليه کاکړه په ختهه مردان زئ کاکړه ده. دغه ليکواله په کال ۱۹۸۷ع کښې په کراچي کښې زېږېدلې ده. د پلار نوم ئې عبدالله خان دی. لومړی درس تر دويم جماعت پوري په کراچي کښې تر لاسه کولو وروسته خپل پلرگني تاټوبي ږوب ته را کډه شو. نور تعليم ئې په ږوب کښې تر لاسه کړو. د

ړوب په ډګري کالج کښي ئې د بي ايس سي کولو وروسته د سردار بهادر خان يونيورستۍ کوټې څخه پي ايم اې اردو په اعزازي نمبرونو پاس کړی.

دې ليکوالي لومړی تحقيق د خليل صديقي په اردو شاعري باندي کولو وروسته دويم تحقيق په اردو ژبې د " بلوچستان میں اردو خاکہ نگاری " تر عنوان لاندي وکړی. په دغه تحقيق کښي دې د بلچستان څخه اړيکه درلودلو خاکه نګاران را مخته کړل. په خپل تحقيق کښي دغه ليکواله وائي چي د تحقيق له مخه زما په ذهن کښي دا خبره راتله چي زۀ په بلوچستان کښي خاکه نګاران وپېژنم او مخ ته ئې راوړم. دغسي به د ادب دغه صنف هم پر مخ راشي.

> "د دغه موضوع په توسط و يوه خوا ته خو د تحقيق دائره کار پراخ شو او و بلي خوا ته د بلوچستان سره اړيکه درلودونکي خاکه نګاران د خاکه نګاري په صنف کښي پر مخ راغله، دغسي ډېر ادبي و غير ادبي شخصيات وپېژندل شو".(۹)

دغه ليکواله خپل تحقيق يوازي تر اردو ژبي پوري نۀ ساتي بلکې اوس د هغې تحقيق په پښتو ادب کښي د ګڼو ادبي شخصياتو د خاکه نګارانو په صف او صنف کښي را مخته کول دي.

**ښائسته شاهين پانيزۍ:** د ښائسته پانيزۍ نوم د سهېلي پښتونخوا په هغو ښځمنو محققينو کښي راځي چي هغې په ډېر کم عمرۍ کښي د تحقيق د لاري په اردو ادب کښي د علامه اقبال په شاعري د رحمن بابا د فکر او سوچ اثر ثابت کړ.

د تحقيق په حواله د ښائسته پانيزۍ نوم د ستائيني وړ دی. ولي چي تر اوسه هغې دوه تحقيقه په داسي موضوعاتو کړي چي د وخت په مناسبت سره ډېر ارزښت لري. هغې د خپلي پوه، د علم سره مينه او محنت باندي خپل تحقيق ته يو جامع ته رنګ ورکړی دی.

ښائسته پانيزۍ په کال ۱۹۹۴ع کښي د بلوچستان د علمي او زرخېزي مځکي د خانوزۍ په سيمه کښي د رحمت الله په کور کښي زېږېدلې ده. تر ځوارلسم جماعت پوري تعليم تر لاسه کولو وروسته په کال ۲۰۱۴ع کښي د سردار بهادر خان وومين يونيورستۍ کوټه څخه ئې د ايم اې اردو ډګرۍ تر لاسه کولو وروسته په کال ۲۰۱۵ع کښي ئې خپل تحقيق د ايم فل له لاري پېل کړی. او په کال ۲۰۱۸ ع کښي ئې په اردو ادب کښي دا خبره په ډېر فخر او لوړتيا ثابته کړه چي شاعر مشرق علامه اقبال په شاعري باندي د رحمان بابا د شاعرۍ اثرات پراته دي.

دې محققي لومړی تحقيق په اردو ژبه کښي د "بلوچستان کے قصیدے اور شجرے" تر عنوان لاندي و پای ته ورسوی. په دې تحقيق کښي ئې هغه شجرې او قصيدې را په مخ کړې کوم چي په شاعرانه انداز کښي يا په صوفيانه طرز کلام کښي وئيل شوي دي. دا د شاعري يو صنف ګڼل کېږي کوم چي امير خسرو له وخته را

شروع شوی دی. په دا کښې د چشتیه، نقشبندیه، سهروردیه او قادریه غوندي شجرې په صوفیانه طرز کلام کښې بیان شوي وې.

په دا تحقیق کښې دا خبره هم ښکاره شوه چې په بلوچستان کښې صرف یو یوازې سړی دی چې میر احمد یقین نومېږي هغه دغه شپږ شجرې لیکلي دي. د ښائسته پانیزې دغه تحقیق د بلوچستان د هرې سیمې تاریخ او ادب په خپل ځان کښې را نغښتی دی. دغه تحقیقي مقاله په کال ۲۰۱۳ع کښې د اسلام آباد یو جنرل چې د تحقیق په نامه دی چاپ شوې ده. دغه تحقیق د پرمختګ لارې اسانه کړې.

دغسې د دغې محققې بل تحقیق چې "اقبال اور رحمان کے مماثل افکار، مباحث اور توضیحات" تر عنوان لاندې په اردو ژبه کښې دی. دغه تحقیق که څه هم په اردو ژبه کښې شوی دی خو ګټه ئې و پښتو ادب ته رسېږي. ولې چې په دغه تحقیق کښې دغه خبره راڅرګنده شوه چې د شاعر مشرق علامه اقبال په شاعرۍ باندې د رحمان بابا د شاعرۍ اثرات ښکاره کېږي. د اقبال په غزلو کښې چې عنوانات ئې حسن و عشق، عقل، د انسانیت تعمیر، خودي، تصوف، اسلامي افکار، سیاسي او سماجي ستونزې دغه ټول د رحمان بابا د شاعرۍ تر اثر لاندې ښکارې. دغه خبره اقبال په خپله یوه مقاله کښې ذکر کوې چې؛

په کال ۱۹۲۳ع د حیدرآباد دکن رساله "Islamic Reiw" کښې "The Great Afghan Warer Poet" تر عنوان لاندې دا خبره منې چې هغه د میجر راورټي یو کتاب چې په کال ۱۸۷۵ع کښې د پښتو شاعرانو کلام په انګرېزي ژبې ژباړلی دی چې نوم ئې "Selection from the poetry of afghan" دی، د دغه کتاب له لارې علامه اقبال رحمان بابا او خوشحال خان خټک غوندې شاعران پېژندلي دي او د هغو کلام ئې مطالعه کړی دی. په دغه کتاب کښې د مخ ۲۶۱ څخه تر ۲۹۷ پورې د رحمان بابا د ۳۴ غزلو ترجمې شوي دي.

د ښائسته پانیزې دغه تحقیق د ستائینې وړ دی. ولې چې د دغه تحقیق ښائست دا دی چې دې محققې په اغیارو کښې د پښتو ژبې ادبي موضوع څېړلې ده. چې د اردو ژبې سره سره ئې د پښتو ادب لمن ئې هم پراخه کړې ده. په علمي تحقیق کښې دغسې تحقیق یوه داسې لار ده چې نور علمي موضوعات هم په کښې څېړلی شو. د ښائسته پانیزې تحقیق د روایتي لارو سره اړولی او په علمي لار ئې روان کړی."(۱۰)

د سهېلي پښتونخوا ښځینه تحقیق مخ په وړاندې روان دی. په دې کښې یو نوم د هاجره مندوخېلې دی چې هغې د بلوچستان په پښتني سیمه ژوب کښې د بېلا بېلو قومونو د ودونو د رسمونو او رواجونو تنقیدي څېړنه کوې.

دغسې شاه بانو په پښتو ادب کښې د پیر محمد کاکړ په فن او شخصیت باندې تحقیق وکړی. دا تحقیقي مقاله دې د بلوچستان یونیورسټۍ پښتو څانګې څخه تر سره کړه. داسې یوه بله محققه چې بلقیس شېراني نومېږي د سائېن کمال خان شېراني فن او شخصیت ئې د خپل موضوع عنوان وګرځوی.

په ښځینه تحقیق کښې بل نوم د شازیه پانیزې دی چې.

" په کال ۱۹۸۵ ع د پښین په سیمه بلوزۍ کښې زېږېدلې ده. په ختهٔ پانیزۍ کاکړه، زدکړې ئې تر ایم اې ارسو، آثار عبدالحمید کاکړ فن او شخصیت، سردار بهادر خان وومین یونیورسټۍ کوټه، د اردو څانګې لپاره د ایم اې اردو مقاله ولیکله".(۱۱)

لنډه دا چې په پښتو ادب کښې د ښځینه لیکوالو تحقیق یوه داسې لاره ده چې و پښتو ادب ته ګټه رسوي او په دغه ادب کښې پټ ستوري او نوي تحقیق لاري ښکاره کوي.

## حوالې

**(۱)** اڅکزۍ ،رحمت بي بي، (۲۰۱۶-۲۰۱۴) د سهېلي پښتونخوا پښتو خطي نسخو څېړنه جاج، د ايم فل تحقيقي مقاله" ، مخ ۲۱ پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټۍ کوټه

**(۲)** اچکزئی، فہمیدہ تاج(۲۰۰۳)بلوچستان میں پشتو افسانہ کا آغاز وارتقاء اور تاریخی پس منظر،ایم فل تحقیقی مقالہ،مخ ا،شعبہ پشتو،جامعہ بلوچستان کوئٹہ

**(۳)**همدغه، مخ ۸

**(۴)** خان، شاکره، (۲۰۱۶-۲۰۱۴) د کاکړې غاړو تهذيبي او کلتوري بنې، د ايم فل تحقيقي مقاله، مخ ۴، پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټۍ کوټه،

**(۵)** کاکړه، شفا(۲۰۱۶) په پښتني تولنه کښې د کرکې او کړنې يوه تنقيدي او تحقيقي جائزه،د ايم فل تحقيقي مقاله، مخ ۹۷، پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټۍ کوټه

**(۶)** پانيزۍ، صفيه رحمن (۲۰۱۶) د علامه عبدالعلي اخوندزاده ژوند او خدمات، د ايم فل تحقيقي مقاله، مخ ۲ ،پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټۍ کوټه

**(۷)** زيارتواله ،آرزو، رحمت بي بي (شاعره)، براه راست انټرويو، دستاويزي شاعرانه کلام،۱۸ مارچ ۲۰۱۹ع، سهار ۱۱ بجې سټي هال کوټه

**(۸)** کاکړه، کلثوم (۲۰۱۶) د ملا سلام اشېزي فن او شخصيت، د ايم فل تحقيقي مقاله، مخ ۱۰، پښتو څانګه بلوچستان يونيورسټۍ کوټه

**(۹)** کاکړه ،عاليه، براه راست انټرويو، ۱۱ اګست ۲۰۱۹ع ګورنمنټ ګرلز ډګري کالج ږوب

**(۱۰)** پانيزۍ ،ښائسته شاهين، براه راست انټرويو،۲۲ اپريل ۲۰۱۹ع، سهار ۱۱:۳۰ بجې ګورنمنټ ګرلز ډګري کالج خانوزۍ او ټيلي فوني انټرويو، ۲۰۱۹ع ۲۸ اپريل

**(۱۱)** رفيقي ،عبدالرؤف، ډاکټر (دسمبر ۲۰۱۵) د پښتو ښځينه ليکوالو او شاعرانو د پېژندني لاربښو، ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه.